# د کورنۍ د ښووني او روزني پاڼه
## د Nasogastric (NG) د تغذيوي ټيوب کارول او پاملرنه

«د Nasogastric (NG) د تغذيوي ټيوب د کارولو او پاملرنې» څخه مطالب پکې شامل دي چې، د Boston د ماشومانو روغتون، ۲۰ م سپتمبر ۲۰۱۷، #۱۶۹۹۹۷؛ له اجازې سره کارول شوي دي.

## Nasogastric (NG) ټيوب څه شی دی؟

د NG ټيوب يو نرم او انعطاف منونکی ټيوب يا نل دی چې د پوزې له لارې داخليږي او د مرۍ له لارې معدې ته ځي.

- دا ستاسو ماشوم ته د درملو، مايعاتو، يا غذايي موادو د ورکولو لپاره کارول کيږي که چېرې دوی د خولې له لارې کافي اندازه مواد نه شي اخيستلی يا هم دا کار د دوی لپاره خوندي نه وي.
- دا ستاسو د ماشوم په غومبوري باندې د ربړ ټيپ يا د پزې د ټيوب د ساتلو وسيلې لکه ®Bridle سره په اړونده ځای کې نښلول کيږي. (٤م انځور، ۳مه پاڼه وګورئ).
- دا په مياشت کې يو ځل بدليږي، يا که چېرې د NG ټيوب راولويږي نو له دې ژر بدليږي.
- که ستاسو ماشوم د پزې د ټيوب د ساتلو وسيله ولرئ، نو د NG د ټيوب او ساتلو وسيله به د ډاکټر يا نرس له لوري بدلولو ته اړتيا ولري.

## د خونديتوب اړوند يادونې:

که چېرې د NG ټيوب په غلط ځای کې وي، نو تنفس (د خوړو يا معدې مواد سږو ته داخليدلی) شي. دا هغه مهال رامنځته کيږي کله چې کانګې (پورته راوخيژي) يا قوي ټوخی د NG ټيوب له معدې څخه را وباسي.

- که ستاسو ماشوم کانګې کوي نو، د NG له ټيوب څخه تر هغې کار مه اخلئ ترڅو چې تاسو اړونده ټيوب ځای پر ځای کړی نه وي.
- که تاسو د NG د ټيوب ليرې کولو ته اړتيا لرئ، ربړ ټيپ ليرې کړئ، او په نرمۍ او چټکۍ سره يې وباسئ.
- که ستاسو ماشوم د پزې د ټيوب د ساتلو وسيله ولري، تاسو کولی شئ اړونده تار پرې کړئ ترڅو وسيله او NG ټيوب يوځای ليرې کړئ.

**که ستاسو ماشوم لاندې موارد ولري، سمدلاسه د NG ټيوب وباسئ:**

- ډېر ټوخی کوي، ټيوب يې له خپلې پوزې را ايستلی وي، يا يې ټيوب له خولې څخه راوځي.
- د خولې شاوخوا يې آبي رنګه کيږي.
- په سم ډول ساه نه شي اخيستلی.

**که ستاسو ماشوم د ټيوب له ايستلو وروسته هم ساه بنده لري يا په تنفس کې ستونزه لري، نو ۹۱۱ شمېرې ته زنګ ووهئ.**

## د طبي مشورې غوښتنه وکړئ:

- که تاسو کومې پوښتنې يا اندېښنې لرئ.
- که چېرې د NG ټيوب ولويږي او تاسو نه شئ کولی چې بدل يې کړئ.
- که ستاسو ماشوم ۱۰۰,٤°F (۳۸°C) يا له دې لوړه تبه ولري.



**2 انځور**

د NG د ټيوب د ځای پرځای کولو لپاره د معدې د جوس ايستل.

## ستاسو د ماشوم د NG ټيوب:

- ډول __________ اندازه __________ اوږدوالی__________
- د پوزې په سوري کې نښه ______________سانتي متره
- د ځای پر ځای کېدو نېټه ______________


UC Davis Health | MPEC بياکتنه: مارچ ۲۵

## د ټولو تغذيه کولو، درملو، او تيوب له وينځلو مخکې د NG تيوب ځای په ځای کول وګورئ:

- ډاډ ترلاسه کړئ چې د NG تيوب په ________ سانتي متره کې دی يا تور رنګه نښه د پوزې په سوري کې ده. (۱ انځور، ۱ پاڼه وګورئ).
- که تاسو د سانتي مترو شمېره يا تور رنګه نښه نه شئ ليدلی، نو ښايي اړونده تيوب حرکت کړی وي او ښايي په سم ځای کې نه وي.
- د NG د تيوب په پای کې د تغذيه کولو د تيوب پيچکاري (د بېلګې په توګه د EnFit® سرنج) وصل کړئ او يو څه يې شاته کش کړئ ترڅو مصنوعي شيدې او/يا جزوي هضم شوي خواړه يا د معدې جوس په (روښانه يا کم ژېړ رنګ يا د وروستيو تغذيه کولو په څېر) وګورئ. (۲ انځور، ۲يمه پاڼه وګورئ)



**2 انځور**
د NG د تيوب د ځای پرځای کولو لپاره د معدې د جوس ايستل.

## څه به وشي که چېرې د NG له تيوب څخه د معدې مواد نه شئ ترلاسه کولی؟

- يوه لويه پيچکاري يا سرنج (۱۰-۳۰ ملي ليتره) وکاروئ او تيوب بېرته راوباسئ يا د ۱-۳ ملي ليتره هوا سره يې ووينځئ بيا هڅه وکړئ چې د معدې مواد بېرته راوباسئ.
- که بيا هم د معدې مواد نه شئ ترلاسه کولی، خپل ماشوم په چپ اړخ کېږدئ او ۱۰-۱۵ دقيقې انتظار وکړئ او بيا هڅه وکړئ.
- که چېرې د انتظار وروسته د معدې مواد ترلاسه نه کړئ، نو د NG تيوب مه کاروئ او د خپل ماشوم ډاکټر ته زنګ ووهئ. ستاسو ماشوم ښايي د تيوب د ځای د کتنې لپاره اېکسرې ته اړتيا ولري.

## خواړه او درمل

**د ځای پرځای کولو له کتنې وروسته، او کله چې تاسو خپل ماشوم ته د خوړو ورکولو لپاره چمتو ياست، نو د خپل نرس او پلورونکي ښوونکي له لوري درکړل شوې لارښوونې تعقيب کړئ:**

- د تغذيې کڅوړه يا سرنج د NG له تيوب سره وصل کړئ او د پمپ يا جاذبې قوې له لارې له لارښوونې سره سم تغذيه ورکړئ.
- د خوړو د جريان په وخت کې خپل ماشوم يواځې مه پرېږدئ.

**که ستاسو ماشوم د خولې له لارې درمل نه شي اخېستلی، نو خپل د روغتيايي پاملرنې له کاري ډلې څخه د درملو لپاره د NG د تيوب د کارولو په اړه پوښتنه وکړئ:**

- هرکله چې امکان ولري مايع درمل وکاروئ.
- ګولۍ/ټابليټ ټوټې کړئ او په اوبو کې يې په ښه توګه حل کړئ.

**د تيوب وينځل يا پاکول:** د NG تيوب بايد په منظم ډول ووينځل شي ترڅو له بندېدو يې مخنيوی وشي.

- د درملو له ورکولو مخکې او وروسته، د درملو ترمنځ، او د تغذيې مخکې او وروسته د NG تيوب د څښاک وړ اوبو سره ووينځئ ترڅو يې د بندېدو مخه ونيول شي. تاسو ته به ستاسو د ماشوم د اړتياوو پراساس څومره ويل کيږي يا که تاسو تيوب نه کاروئ نو په ورځ کې يو ځل په اوبو سره وينځل کيږي.

**څه به کيږي که چېرې د NG تيوب بند شي؟** په نرمۍ سره هڅه وکړئ چې د پيل/درولو حرکت په کارولو سره د څښاک ګرمې اوبه د NG تيوب ته دننه کړئ.

- هېڅکله د NG د تيوب د خلاصولو لپاره د څښاک له اوبو پرته بل څه مه اچوئ.
- هېڅکله د NG د تيوب د خلاصولو لپاره د سټايلټ څخه کار مه اخلئ.
- که تاسو NG تيوب نه شئ خلاصولی، نو ښايي بدلولو ته اړتيا ولري. يواځې هغه مهال د NG تيوب بدل کړئ که چېرې تاسو ته در ښودل شوي وي چې دا کار بايد څنګه وکړئ.



**3 انځور**
د NG د تيوب وينځل يا پاکول.
درمل ورکول.

په مطالبو کې دغه موارد شامل دي: له اجازې سره کارول شوی:
«د Nasogastric (NG) د تغذيوي تيوب کارول او پاملرنه»،
Boston د ماشومانو روغتون، ۲۰ م سپتمبر ۲۰۱۷، #۱۶۹۹۹۷.

UC DAVIS HEALTH | CHILDREN'S HOSPITAL | Children's Miracle Network Hospitals



**4 انځور**
د ماشوم د پوزې پاکول د NG تيوب او د پزې د تيوب د ساتلو له وسيلې سره.


## د خپل ماشوم مخ او د NG د تيوب شاوخوا ځنګه پاکه کړئ:

- د خپل ماشوم مخ او پوزه پاکه وساتئ او لږترلږه په ورځ کې يو ځل د ګرمو صابون اوبو سره دوارِه خواوې په نرمۍ سره ووينځئ. د خپل ماشوم مخ ډېر مه لندوئ ځکه چې اړوند ربړ ټېپ ښايي خلاص شي، او د NG تيوب وغورځيږي. که چېرې اړوند ربړ ټېپ لوند شي نو بدل يې کړئ.
- د پاکولو په وخت کې، د NG تيوب او د پزې د تيوب د ساتلو وسيلې شاوخوا پوستکي د خارښت يا انتاناتو د نښو لپاره وګورئ. که تاسو د خپل ماشوم د پوستکي په اړه کومه اندېښنه لرئ، د خپل ماشوم نرس يا ډاکټر ته زنګ ووهئ.

ځينې ماشومان به د پزې د تيوب د ساتلو وسيله ولري، د هغو کسانو لپاره چې دا وسيله نه لري، کورنۍ به اړتيا ولري چې پوه شي چې څنګه د NG تيوب په خپل ځای کې وساتي.

## د ماشوم په غومبوري باندې له ربړ ټېپ سره د NG تيوب نښلول (۵ انځور، ۳مه پاڼه وګورئ):


- د خنډ طبقه (لکه Cavilon® No Sting Barrier) طبقه په هغه غومبوري باندې تطبيق کړئ چېرې چې به د NG تيوب وي. وچولو ته يې پرېږدئ.
- د هايدروکولايډ اړوند د پوستکي د خونديتوب پوښاک يوه کوچنۍ ټوټه تطبيق کړئ ترڅو پوستکی د خنډ له طبقې سره د خارښت (لکه Duoderm®) څخه خوندي کړي.
- د NG تيوب د پوستکي د خونديتوب له پوښاک سره ځای په ځای کړئ او د NG تيوب د ربړ ټېپ يا شفاف پوښاک (لکه Tagaderm®) سره وپوښئ.
- د غوږ شاته د NG تيوب خوندي کړئ او تيوب يې په غاړه يا اوږه پورې وتړئ.



**5 انځور**
د NG تيوب د هايدروکولايډ اړوند د پوستکي د خونديتوب پوښاک او د ماشوم په غومبوري باندې په ربړ ټېپ سره نښلول شوی دی.

## مهمې لارښوونې:

- د NG تيوب پای لږ تر لږه په ورځ کې يو ځل د غاښونو په پاک بورس او ګرمو اوبو سره پاک کړئ ترڅو د سرېښناک کېدو مخه يې ونيول شي.
- په کوچنيو ماشومانو پام کوئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی د NG تيوب کش نه کړي.
- ځاروې د خپل ماشوم د NG له تيوب څخه ليرې وساتئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تيوب کش نه کړي.



**6 انځور**
د NG تيوب د EnFit® پای د غاښونو په بورس سره پاکول.



په مطالبو کې دغه موارد شامل دي: له اجازې سره کارول شوی:
«د NG (Nasogastric) د تغذيوي تيوب کارول او پاملرنه»،
Boston د ماشومانو روغتون، ۲۰ م سپتمبر ۲۰۱۷، #۱۶۹۹۹۷.